# پښتونخوا

## زموږ پلرو او زړو پښتنو خپله مېنه څه بلله؟

دا يوه پوښتنه ده چي جواب يې تاريخ ورکوي ! ځکه چي د پخوانو پښتنو ليکونه پاته نه دي، او د دوی خپل ليکلي تاريخونه ورك دي، نو د پښتنو د هيواد د زاړه نوم پلټنه هم ګرانه ده. ما دمخه په طلوع افغان او نورو وطني مجلو کي څه نه څه د دې پوښتني حل کړی وو، اوس دلته خپل افکار او تحقيقات ليکم :

د پښتون نوم خو لکه دمخه چي د پښتو او پښتونوالي په بحث کي وويل سوه، خورا زوړ دی په رګويدا کي هم د پکهت نوم راغلی او وروسته يوناني مؤرخينو لکه هيرودوت او نورو هم ذکر کړی دی، د اسلام لومړني مؤرخين بلاذری، طبري، مسعودي او نور خو هم د پښتونخوا د فتوحاتو ذکر کوي، مګر د دې نوم نه اخلي، فقط د هر ښار نوم بېل بېل يادوي، مثلاً بست، سجستان، داور، رخج، زابل، کابل، باميان او نور ... د دې سبب هم ښکاره دی ځکه چي د اسلام په ابتدا کي دلته ملوك الطوايف وه نو مسلمانان چي به هر ځای ته راتله او نيوی بې، د هغه ښار نوم به يې اخيست، د مملکت په حيث يې نه پېژندی.

د افغان نوم خو هم يو نوی نوم دی، العتبی د (٤١٥ هـ) په حدودو کي لومړنی پلا دا نوم راوړي[١] تر ده وروسته هم د غزنوي عصر مؤرخينو لکه البيروني، الادريسي دا نوم ذکر کړی دی، فردوسي هم په شهنامه کي څو ځايه راوړی دی. دا نوم وروسته د هند مؤرخينو هم مکرراً ذکر کړی دی، مثلاً ابولفضل[٢] او د ظفرنامې خاوند او مطلع السعدين (افغان يا اوغانان) ليکي، وروسته محمد قاسم فرشته په خپل تاريخ کي هم دا نوم ډېر ذکر کړی دی، مګر د بابر د کورنۍ په عصر کي چي هندي مؤرخين راغلي دي دوی د پښتنو مسکن (روه) او دوی يې "روهيله: بلله[٣].

تر اوسه هم د پښتنو مهاجرينو ځای په هند کي روهيل ګهنډ بولي، زما په خيال خو دا کلمې يعني (افغان، او روهيله او روه) زړې کلمې نه دي، بلکي پسله اسلامه رواج سوي دي، مسعودي چي په (٣٠٤ هـ) کي کندهار د رهبوط ځای بولي[٤] دا کلمه هم دغه روه ته نژدې ده.

د افغان يا روه ذکر خو تر اسلام دمخه په تاريخو کي نه دی راغلی مګر د پښتون ذکر لکه چي دمخه مو وويل په زړو آثارو کي سته، نو ځکه دا نوم تر هغو نورو نومو غوره او تاريخي او د اصالته ډك دی.

اوس چي د پښتون او نورو نومو تاريخي حيثيت لنډ ښکاره سو، نو به د دې مملکت پر زاړه نوم هم بحث وکو، پښتنو خو خپله مېنه "پښتونخوا" بلله دا نوم له ابتداء څخه د پښتو په ادب کي داخل دی، او فرانسوي مشهور ژب پوهاند جم ډر مستېټر Darmesteter هم دا نوم غوره کړی دی، هغه کتاب چي ده د پښتو پر ادب کښلی دی نوم يې "د پښتونخوا د شعر هار وبهار" دی[٥]. دې فرانسوي محقق او ژب پوهاند دا اصطلاح د پښتو له ادبه اخيستې ده او دا نوم يې هم د پښتنو د مملکت اصلي او خپل نوم ګڼلی دی. په پښتو ادب کي خو دا نوم ډېر راغلی دی، مثلاً خوشحال خان خټك وايي :

هر چه ښه د "پښتونخوا" دی حال يې دا دی  
هغو بدو ته يې څوك وايي ســــــړی دی[٦]

پير محمد کاکړ د احمدشاهي کورنۍ استاد وايي :

لکه شعر دی د ده په "پښتونخـــــوا" کي
بل به لږ وي په دا وخت د افـــغان شعر[۷]

میان نعیم متی زی د (شیخ متی کلات بابا) لمسی وایي :

د زړه ملك مي د اشنا سترګو خـــراب کړ
که وهلې "پښتونخوا" دی سرو مـــغولو[۸]

اعلیحضرت احمدشاه بابا هم په خپل دېوان کي د پښتونخوا کلمه راوړي او خپل وطن يې په دې نامه ستایلی دی مثلاً :

د ډهلي تخت هېرومه چي رایاد کــــړم
ځما د ښکلي "پښتونخوا" د غرو سرونه

د "پښتونخوا" کلمه خورا زړه ده، لکه د پښتو په ادبیاتو کي چي داخله ده، دغسي هم دمخه دا کلمه وه، او د زړو مؤرخينو هم دغه نوم د پښتنو د وطن او مملکت لپاره ليکلی دی.

هيرودوت يوناني د مؤرخينو پلار (پاکتي ايکي) د پښتنو په بحث کي راوړي دي، په يوناني د اوسني پښتون تلفظ پکتين يا پاکتين وو، پاکتي ايکي هم هيرودوت د دې قوم په ځکه کي ذکر کوي، چي داريوش خپل يو سفير سکايی لاسك Skyloce د انډوس يعنی "سند" د کشف لپاره واستاوه دا سړی د پاکتي ايکي له سرزمين څخه تېر سو[۹].

پاکتي خو دغه اوسنی پښتون دی، د "ښ" ابدال په "ك" خو هم له دغي کلمې څخه دي د يونانيانو د (×) د توري تلفظ خو عيناً لکه د پښتو (ښ) داسي دی[۱۰]. نو چي دوی د پښت يا پښتون کلمه پکهت يا پکتين کړې وه دغسي هم د "خوا" کلمه په دغه ډول په (ايکي) اوښتې ده.

زايد الف پردو ملتو د پښتو د ډېرو کلماتو په سر کي ور اچولی دی، مثلاً د پښتو (لمر) کله مور په خپله اوس په افغانستان کي د ننبانو لپاره (المر) وايو او هم تخفيف يې په غلطه (الف) کوو، حال دا چي صحيح تخفيف يې بايد (ل) وای نو دې مکسور همزه خو د ځانه سره د لاتيني پر اصولو يو حرف چي د زېر حرکت ښکاره کي، يعني (ی) هم زياته کړه، د پښتو (خ،ښ) خو هم د يوناني په (ك) ابدال کېده نو د (خوا) (خ) هم په (ك) واوښته (واو) خو ډېر پښتانه اوس هم په اماله يا بدال د (ی) وايي، مثلاً خور ـ خېر، غوړی ـ غېړي ـ مور، مېر.

نو که زړو پښتنو پر دې ډول (و) اماله يا ابدال کاوه، او يونانيانو اروېدلی وي هيڅ ليري نه ده، په دې راز (خوا) خوی يا خی، او وروسته د يونانيانو پر اصطلاح (کی) او وروسته په تزئيد د زائد همزه (اِکی) او بيا نو (ايکی) سوه. نو غالباً د پښتنو دغه نوم چي خپل وطن او خپل غرونه يې په بلل، او د دې څلورو سوو کالو په ادبياتو کي داخل دي، د پښتنو د هيواد او مېني زوړ نوم دی، چي د يونان هيرودوت په يوناني لهجه او اصطلاح (پاکتي ايکي) کښلی دی ځکه چي هيرودوت تر ميلاد دمخه په (۴۸۴ ـ ۴۲۵ ع) کي ژوندی وو او ده په خپل تاريخ کي دا کلمه راوړې ده.

نو د پښتنو د مېني يعني افغنستان لپاره په تاريخي دلايلو دا نوم خورا زوړ دی، او تر اوسه هم په پښتو ژبه کي ژوندی او پاته دی او زموږ د مېني پښتو نوم "پښتونخوا" دی[۱۱].

لمن ليکونه


۱. تاريخ يميني ص ۲۷۰ _ ٤۱٥.
۲. آئين اکبري ج ۲ ص ۱۹۱.
۳. وګورئ خصائل السعاده او خورشيد جهان، تاريخ نعمت الله او نور، او اسلامي انساکلوپيډيا.
٤. مروج الذهب د مسعودي ج ۱ ص ۳۷۲
٥. د پاريس په مطبع کي د مشرقي انجمن په خرخ په ۱۸۸۸ ع طبع سوی دی.
٦. کليات قلمي د خوشحال خان ص ۷۷۰ ليك سوی په ملتان کي ۱۱٤۲ هـ.
۷. کليات قلمي د پير محمد کاکړ ص ٤۲.
۸. کليات قلمي د ميا نعيم متی زي ص ۱۷٥.
۹. د هيرودوت تاريخ ص ۷٦۰ _ ۳۰۸ ج ۱ _ ص ۱٥۷ _ ۱۲۱ ج ۲.
۱۰. فاضل يعقوب حسن خان د کابل په سالنامو کي دا خبره ښه څرګنده کړې ده.
۱۱. طلوع افغان ۱۳۱۹ د غوايي اتمه، د اولسم کال لومړۍ ګڼه، ٥۳ مخ.